# فضل الرحیم ساقي د اصلاحي شاعرۍ تنقیدي جائزه

# Critical Analysis the Reformative Poetry of Fazal Rahim Saqi

Dr. Syed Zafar ullah Bakhshali *

**Abstracr:**

There are many poets in the history of Pashto Literature. In theses poets one of the important and promenant poet is Fazal Rahim Saqi .The poetry of Fazal Rahim Saqi has many dimensions. He has discussed social, moral and political issues in his poetry. The prominent aspect of his poetry is social reformations and didacticism. He has not only pointed out numerous social issues and problems but also described their solution. In his reformative poetry he has discussed social values and social behaviors. He wants social reforms through peaceful and nonviolent ways. In his themes of social rearms, nonviolence and social tolerance are dominant themes. This article describes the reformative aspects of his poetry.

**Key Words:** Poetry, Reformative, Peaceful, Social Rearms, Nonviolence and Social tolerance

ښاغلے فضل الرحیم ساقي ( پیدائش کال: ۱۹۰۴ء، د وفات ۱۹۹۴)دخدائي خدمتګار غورځنګ په مخکښ شاعرانو کښې وو دوي د پلار نوم عبدالعزیز خان وو وو ښاغلے ساقي د چارسده په وردګه نومي کلي کښې پیدا شوي وو په قام محمدزے وو دوي د باچا خان سره په خدائي خدمتګار تحریک کښې اوږه په اوږه ولاړوو مونږ که د دغي تحریک نورو شاعرانو ته وګورو نو ټولو شاعرانو د سامراج خلا ف ئي آواز اوچت کړي د پښتو قام د ورسته پاتي ورځي غم ئي ژړلي دے دوي د باچا خان د عدم تشدد لاره اختیار کړي وه او د معاشري د اصلاح د پاره خپل قلم توان ساتلے دے که مونږ دغي تحریک شاعرانو ته ځیر شو نو ډیر شاعران لکه فضل محمود مخفي،عبدالماک فدا ، سعادت خان جلبل ، کرامت شاه فولاد ، شاد محمد میږے ، ولي محمد طوفان ، خان میر هلالي او داسي نور ډیران شاعران چې په خپله شاعري کښې د خوار اولس غم او درد ژړلي دے او د معاشري د اصلاح کولو کوشش ئي کړي په دغه شاعرانو کښې یو فضل الرحیم ساقي هم

* Assistant Professor, Department of Pashto Abdul Wali Khan University Mardan..

دے

په شاعرۍ کښې د ټولنې دننه د عمرانې، سماجي رويو د اصلاح دپاره پېغام موجود وي. ټولنه يو پراخ کېنوس دے او د تهذيبي ارتقاء دپاره دلته د ښېګړې او اخلاقي غوره امکانات هر کله موجود وي. د کلاسيک نه تر دې دمه پورې اصلاحي شاعري د پښتو ادب يوه لويه برخه پاتې شوې ده.

خدائي خدمتګار تحريک هر څو په ټولنه کښې د اولسي شعور بېدارۍ او د ټولنيزو چارو سمون دپاره عملي زيار باسلے دے، اصلاحي شاعري د دې مکتب سره د تړون لرونکو د شاعرۍ يوه مهمه حصه هم منلې شوې ده. فضل الرحيم ساقي هم په خپلو دواړو چاپ شوو شعري ټولګو او ناچاپه شاعرۍ کښې اصلاحي فکرونو ته خصوصي ځائے ورکړے دے. په اصلاحي فکر د هغۀ عقيده په دې شعر کښې ښکاري :

"کوم کارونه چې د کړو دي هغه کېږي په کولو
د جهان سمون ځيګره په دعا په ښېرو نۀ شي"[1]

او د "عمليت پسندۍ" دغه جذبه يې هم ددې شعر لاندې ليکلي نظم "خدائي خدمتګار" کښې د تاريخي تلميحاتو نه وروستو په دې دعا ښکاره کړې ده:

"راله جوړه دې خدائي خدمتګاري کړه
د پښتون د سترګو تور فخرِ افغانه!
ستا لمن او د ساقي دواړه لاسونه
دې بېل نۀ شي، سوال کوم د پاک مولا نه"[2]

د اصلاحِ معاشره دپاره د هغوي تګلاره د عدم تشدد په بنياد او د پوخ دليل په ډاډ وه. هغوي په يو اړخ د ملک نه د پېرنګي د ويستلو کار کولو او په بله خوا يې د خپل قام د اخلاقي او مادي شتمنۍ دپاره هلې ځلې کولې. هر رنګه حالت که وو دوي د معاشري د اصلاح کېدلو دپاره يې د عمل درجه بندي لرله او تر خپله وسه يې د "حکمت" لاره خپله کړې وه.

"چې دښمن ورک کړي او ځان کلک کړي حکمت دے
چې خپل ځان ورسره ورک کړي شجاعت دے

چې خان ورک کړي او دښمن شي ترې نه پاتې
دا کاني په چا ومه شه، هلاکت دے"[3]

د اصلاح په دې لاره کښې هغه چې د کومې قافلې ملګرے پاتې شوے دے، د هغې مشر فخر افغان باچا خان ؤ او دۀ تر خپله وسه نۀ هغه هېر کړے دے او نۀ يې د هغۀ اقتداء پرېښې ده. د پاکستاني رياست لۀ خوا په مجموعي توګه اتۀ کاله قېد او صوبه بدرۍ نه وروسته چې کله باچا خان په پښتونخوا کښې قدم ږدي نو ساقي د خپل قام مصلح ته هرکلے داسې وايي:

"اے زمونږ د غم غمخوره! ستړے مۀ شې
د پښتون په تګ سرتوره ستړے مۀ شې
تا زمونږ سترګې بينا کړې ننګياليه!
د هر چا د سترګو توره ستړے مۀ شې
د ظالم د سترګو خار فخرِ افغانه!
د مظلوم د زړۀ ټکوره ستړے مۀ شې
تۀ مئين په پښتنو او دوي په تا دي
دا نعرې دي لور د لوره ستړے مۀ شې
لوئے لعنت د پېرنګيانو غلامي وه
مونږ دې خلاص کړو لۀ پېغوره ستړے مۀ شې
اتۀ کاله قېد دې تېر کړو پاکستان کښې
خدائے راوويستې د اوره ستړے مۀ شې
شکر شکر دے چې بيا مو ديدن وشو
اے زمونږ د دعا سوره ستړے مۀ شې
مونږه ملا پرانستې نۀ ده لا تراوسه
د هر چا سترګو ته ګوره ستړے مۀ شې
چې تر څو منزل ته نۀ يو رسېدلي
واپس نۀ درومو تر ګوره ستړے مۀ شې
د ظالم لۀ بدو سترګو په امان شې

د خوارانـــو بـــاغ سمســـوره ســـتړے مـــۀ شـــې
د ســـــاقي جامونــــه ډک لـــــه ســـــرو شــــرابو
دا پیالــۀ مــۀ شــه نســکوره ســتړے مــۀ شــې"[4]

د پښتو ژبې دا متل "چې څۀ کرې، هغه به رېبې" پۀ مصداق ضروري نۀ ده چې تۀ يو چا سره بدي وکړې او هغه د بل چا پۀ لاس تاسره وشي. "انسان د انسان رحمان هم دے او شېطان هم". ساقي صاحب خپل نظم "ځېل" کښې پۀ دې شعر کښې د انساني رحمانۍ او شېطانۍ رنګ ښايي:

"يــو ځــادر کښــې ماسره هــم اوړے دے هــم ژمــے دے
نېکــو ســره نېــک يمــه او بــدو ســره بــد شــمه"[5]

او د انسان د خېر او شر رشته يې د هغۀ نيت او عمل سره داسې تړلې ده:

"دنيـــا لـــۀ تانـــه شـــوله ورانـــه، کـــۀ خانـــدې خانـــده، کـــۀ ژاړې ژاړه
جـــر غرېـــږي چـــې څـــوک ويښـــېږي، هغـــو کـــړه لانـــدې او دوي نـــه لاړه
ګرم بـازار دے خـو نـن يـې وار دے، سـودا بـه وکـړي چـې څـوک هوښـيار دے
ســـبا لـــه کـــوچ دے، د لـــوئے لارې مونـــدلے نـــۀ شـــي څـــۀ پـــه ويجـــاړه
دواړه لکـــــــــه جهانـــــــــه، لکـــــــــه آئـــــــــين دي
چـــې دلتـــه وايـــي هلتـــه بـــه اوري، لـــه نرمـــۍ نرمـــه، لـــه لـــواړو لـــواړه"[6]

ننګ او پت د پښتنې تولنې مهم توکي دي. پښتونواله کښې دا د پښتنو نفسياتو بنيادي توکي دي او ټولنه د بې ننګۍ پېغور کله هم د زغم وړ ګڼلے نۀ شي.اکثر زمونږ پـه ټولنه کښې د پيغور له وې معاشره ورانه شې ليکن پېغور پـه اصـل کښـې د ښـه او بد دواړه معنوکښې استعماليږي خو دلته ئي زياتره خلق پـه منفي اړخ زيات زور اچوي ـ د ساقي صيب شاعري کښې د "ننګ" تر سرليک لاندې د نظم ځينې اصلاحي شعرونه:

"چـــې کارونــــه پښـــتون نـــۀ کـــوي د ننـــګ
تـــرې نـــۀ ښـــۀ دے هنـــدوګے وهلـــے لنـــګ
چـې حيـا ، غېـرت، ايمـان پـه چـا کښـې نـۀ وي
د هغـــــه يـــــاري ده ســـــپورے دے د ګړنـــــګ

کــهٔ خپــل ورونــه یــې پــرې نــهٔ حلالــولے
دا پښــتون تــوره بــه وه خــوړلې زنــګ
غلامــۍ د پښــتون نــام او نشــان ورک کــهٔ
کــهٔ خــوراک یــې وي همــه لاچــې لونــګ"[7]

او بیا هم دغه افکار پهٔ بل غزلیه نظم کښې زیات اغېز سره وړاندې کوي:

"کــهٔ خبــرې کــړې د ننــګ او د نــاموس
د بــازونو چــارې کــړے نــهٔ شــي ټپــوس
د عــزت او د ابــرو ســره یــې څــهٔ دي
پــه خــروار لېټــۍ کښــې مــهٔ غــواړه کنجــوس
د غنمــو رشــې وړې خوشــحاله خــان وي
ســاقي هســې بــادوي ســر بانــدې بــوس"[8]

او دغسې چې څوک سره د پوهې هم د ټولنې سره سم نهٔ ځي او یا پهٔ خپله قامي ګټه او تاوان نهٔ پوهېږي نو د هغوي پوهه او زدکړه رد کوي، وایي:

"چــې عمــل یــې پــهٔ یــو ټکــي بانــدې نــهٔ وي
بــې عملــه خوانــدګي څــهٔ پکــار نــهٔ ده"[9]

د ننګ او پت پهٔ لړ کښې ساقي صاحب لکه د ستر خوشحال خان خټک د ګیلې نه زیاته د پېغور لهجه خپله کړې ده. هر څو ساقي صاحب د خوشحال بابا غوندې بې تکلفه نهٔ دے، نو پېغور یې هم پهٔ استفهامیه انداز کښې لوستونکي اورېدونکي ته رسولے چې "ایثار" نظم یې بېلګه ده:

"خدایــه! زمــونږ نــه د ســن تــیس هغــه ایثــار څــهٔ شــو؟
چــې پــه قــرآن بانــدې مــې کــړے ؤ اقــرار څــهٔ شــو؟
چــې بــه د ســر و مــال نــه تېــر وو د وطــن پــه مینــه
پابنــد د وخــت وو هغــه خــدائي خــدمتګار څــهٔ شــو؟
یــاجوج مــاجوج کــوي حملــې د تبــاهۍ پــه وطــن
چــې د ســلطانِ ســکندر هغــه دیــوار څــهٔ شــو

چـې يـې مثـال د ابـراهيم او اسـماعيل پـېش کـوو
پـه قربـانۍ کښـې خدايـه! هغـه زوي او پـلار څـۀ شـو؟
چــې يــې د ســر پــه بدلــه د جنــت بــاغ غوښــتلو
مســلمانانو نــه هغــه ښــکلے بېوپــار څــۀ شــو؟
ســاقي کوڅــه پــه کوڅــه ګرځــي او پوښــتنه کــوي
د ازادۍ نــاوې جــوړېږي خريــدار څــۀ شــو؟"[10]

دلته بايد دا خبره په پام کښې ولرو چې ساقي صاحب لکه څنګه چې مونږ وړاندې خبره کړې ده، خپله ټوله اصلاحي شاعرۍ کښې يو تبليغي او محتاط انداز خپل کړے دے. هغه پېغور د پېغور لهجه دومره نۀ ترخوي او نۀ ترې صفا ګيله جوړوي. د ساقي صاحب د اصلاحي شاعرۍ يو کمال دا هم دے چې هغه خپل مخاطب ته کله پسته ژبه کښې پېغور ورکړي، کله ورته لکه د يو مشر پۀ کلکه او ستغه ژبه ښوو نه وکړي او کله ورته د نېکۍ او بدۍ، عمليت او بې علمۍ مثالونه مخې ته کېږدي. دې مسلسل غزل کښې دغه رنګ برخېره ښکاري.

"دنيــا پــۀ هغــو پســې ځغلــي چــې څــوک کــار کــوي
هغــو نــه تښــتي چــې خپــل کــار لکــه بيګــار کــوي
شــاړې مېــرې پــه خپــل همــت ګــل و ګلــزار کړلــې چــا
څــوک بــې همتــه ټولــه ورځ کوڅــه بــازار کــوي"[11]

او دلته خو د اصلاحي شاعرۍ روايت هم روايتي دے:

"لــوئے کمــال علــم ادب دے بنيــادم کښــې
پــۀ ترتيــب بــه ښائســته کېــږي ګلشــن ســتا
چــې تــا پرېښــودل ناکــاره عادتونــه
ادا کېــږي زمــا لمــونځ پــه لمــن ســتا
ښائســـته ده معـــافي د بـــدلې نـــه
دښــمنان بــه تمــامي شــي خــوږمن ســتا
بــې صــبري بــې انــدازې بــې قــراري ده

صـــبر کـــړه زړګـــے بـــه وي مطمـــئن ســـتا"[12]

کوم غزل نما نظم نه چې زۀ اوس مثالونه را اخلم، دې کلام کښې ساقي صاحب پۀ هغه رويو او فکري مغالطو ټکونه کړي دي چې پۀ يو لحاظ يې مونږ د خپل برئيت دپاره د جواز پۀ توګه وړاندې کوو. مونږ د علت او سبب نه سترګې پټې کړو او ځان بري الذمه کړو. د ساقي صاحب دا اصلاحي شعرونه زمونږ د ټولنې پۀ سماجي نفسياتو د هغۀ د ژورې مشاهدې غمازي کوي:

"هغــه څــوک چـــې توکـــل کـــوي بـــې ځايـــه
پـــۀ جهـــان کښـــې بـــه خپـــل ځـــان رســـوا کـــوي
هغـه دوسـت چـې پـۀ سـختۍ کښـې پکـار نـۀ شـي
رنـــګ يـــې ورک شـــه کـــۀ پـــه خولـــۀ دعـــا کـــوي
د بـــالغ اولاد نکـــاح کښـــې صـــرفه مـــۀ کـــړه
تـــۀ مـــاخوذه يـــې چـــې دوي زنـــا کـــوي
پـــۀ معنـــې د هـــر يـــو ټکـــي فکـــر بويـــه
د حضـــور ســـره چـــې لمـــونځ ادا کـــوي"[13]

بې شکه چې خدا ے پۀ هره ژبه او د زړونو پۀ حال پوهه دے، نمونځ کوونکے د دې نه خبر نۀ دے چې زۀ مخ پۀ قبله لاس پۀ نامه نمانځه ته ولاړ يم نو څۀ وايم؟ د نړۍ پۀ مخ هر مذهب خپل کتابونه، عبادتونه، مناجات او دعاګانې پۀ ټولو هغه ژبو ژباړلې دي چې د دغه مذهبونو منونکي يې وايي. د ساقي صاحب نه مقدمينو هم دا کار کړے دے خو ساقي صاحب د خدائي خدمتګار مکتب د اسلوب سره سمه پۀ ساده، عام فهمه اولسي ژبه کښې دغه ژباړه کړې ده چې د "نمونځ" او "دعائے قنوت" د سرليک لاندې د نظمونو نه د مثال په توګه څو شعرونه رانقل کوم:

"نمونځ

امـــان غـــواړم لـــه شـــېطان لعـــين رجيمـــه
ســـتا پـــه نـــوم شـــروع کـــوم رحمٰـــن رحيمـــه
د ســـتائلو لائـــق هغـــه پـــاک ســـبحان دے

چـــــې پـــــالونکے د عـــــالمو د جهـــــان دے
هـــم مالـــک پـــه لويـــه ورځ کښـــې د قيامـــت دے
خدايــــــه! تالــــــه زمــــــا واړه عبــــــادت دے
برکـــــــت دې پـــــــه اولاد د محمــــــــد ﷺ وي
ښائســـــته دې لـــــه هـــــر چانـــــه تـــــر ابـــــد وي
پـــه دنيـــا کښـــې مـــا پـــه ډېـــرو ښـــادو ښـــاد کـــړې
د دوزخ لـــــه ګرمـــــه اوره مـــــې ازاد کـــــړې"[14]

"دعائې قنوت

خدايـــــه! ســـــتانه مـــــدت غـــــواړم هـــــر زمـــــان
تـــــوبې کـــــاږم لـــــه بـــــديو صـــــبح و شـــــام
هـــــم پـــــه تـــــا بانـــــدې کامـــــل ايمـــــان لرمـــــه
توکـــــــل دربانـــــــدې هـــــــر زمـــــــان لرمـــــــه
ســـــتا لـــــه قهـــــره امـــــان راکـــــړې پاکـــــه ربـــــه!
خـــلاص بـــه نـــۀ شـــي کـــافران ســـتا لـــه غضـــبه"[15]

د خپلو کليمو، مناجاتو او دعاګانو پۀ معنا د نۀ پوهېدلو پۀ سبب کۀ مذهب هر خومره پۀ ټولنه کښې ارزښت ولرلو خو د مُلا او پير جاګير وګرځېدلو. پۀ اولسي ژوند کښې د ځۀ مثبت بدلون راوستلو پۀ ځائے ترې د اولس د لوټلو ځو رسمونه جوړ شو. ساقي صاحب بې د څۀ لنډو اوږدو نبغ پۀ نبغه پۀ مختلفو ځايونو کښې پۀ دې خبرې کړې دي.

"چـې عـالم ديـن پـۀ دنيـا بانـدې بـدل کـړي
لکـه لـوټ شـي تيـر انـداز پـۀ پرکـالي"[16]

پۀ دې لړ کښې هغۀ پۀ يو نظم کښې "ملا صاحب ته خطاب" کښې وايي:

"مُــلا صــاحبه! کــوم خــدمت دې د اســلام کــړے دے؟
د پـــاک رســـول پـــه مصـــله چـــې دې قيـــام کـــړے دے
وعـــظ د اســـخات او د خېـــرات دې همېشـــه اورمـــه
هـــم د جمعـــې پـــه مبارکـــه شـــپه دې پـــام کـــړے دے

وواېـــه دا میـــراث د پـــاک رســـول الله دې څـــهٔ کـــهٔ
درســـره شـــته کـــهٔ دې دا وار پـــرې د نـــیلام کـــړے دے
یـــــواځې دغـــــه مصـــــله نـــــهٔ وه میـــــراث د نبـــــي ص
د دهٔ یـــــارانو حکومـــــت پـــــه روم او شـــــام کـــــړے دے
هـــره غـــزا کښـــې بـــه شـــامل ؤ هغـــه ذات پـــهٔ خپلـــه
د ازادۍ ټـــولې دنیـــا تـــه یـــې پېغـــام کـــړے دے
تـــهٔ ناســـت یـــې ګـــورې او پـــهٔ مـــونږ تـــورې اغیـــار چلـــوي
دغســـې کـــار کلـــه زمـــونږ خېـــر الانـــام کـــړے دے
ګـــوټ نـــه راووځـــه د اغیـــارو نـــه پرســـان وکـــړه
ظلـــم مـــو ولـــې نـــن زمـــا پـــه غریـــب قـــام کـــړے دے
د خوبـــه پـــاڅوه ســـاقي خپـــل عالمـــان د وطـــن
پـــوره یـــوولس ســـوه کالـــه یـــې ارام کـــړے دے"[17]

لکه څنګه چې مو مخکښې ذکر وکړو، د خپلو کلیمو او مناجاتو د معنې نه په بې خبرۍ اولس پهٔ مختلفو منترونو ولوټلے شي. خدائي خدمتګار غورځنګ عملي ډول باندې د داسې رسمونو بېخ ویستلو چې پهٔ مذهب کښې ورته څهٔ شرعي حېثیت حاصل نهٔ ؤ. هر څو کهٔ بیا د غورځنګ غړو د مختلفو فتوو پهٔ شکل کښې د دغه بغاوت قیمت ورکړو، خو دوي حق خبره پهٔ جار د کولو نه څنډه ونهٔ کړه. د سخات پهٔ مسئله د ساقي صاحب د نظم "سخات" نه ځینې شعرونه:

"زمـــونږه کـــور بـــه تـــالا کېـــږي پـــهٔ دې ســـخات تـــر څـــو
رواج بـــــه مشـــــر وي زمـــــونږه د خېـــــرات تـــــر څـــــو
بـــې د پښـــتون نـــه نـــور اســـلام کښـــې چرتـــه ســـخات نشـــته دے
مـــونږ بـــه یـــې زیـــات ګڼـــو لـــهٔ صـــوم او لـــهٔ صـــلات تـــر څـــو
ســــــاقي نفـــــاق او رواج پربـــــــږده یـــــو الله وګڼـــــه
ګرځـــوې تـــرخ کښـــې بـــه پـــه پټـــه لات منـــات تـــر څـــو"[18]

خپله اصلاحي شاعرۍ کښې ساقي صاحب اعلیٰ انساني اقدارو ته خصوصي ځائے

ورکړے دے او د هغه احوال داصلاح هڅه يې کړې ده چې پۀ ټولنه کښې ورته پاملرنه شوې نۀ ده. د يو غزل څو شعرونه:

"سـوال قبـول کـړه د سـائل اول د سـوال نـه
معلـومېږي بـې لـۀ سـترګو مـدعا
متجـع خـوراک د سـوال نـه ډېـر بهتـر دے
د خـدائے دوسـت دے کسـب ګـر پـه دا دنيـا
بزرګـي کـۀ پـۀ دنيـا حاصـلول غـواړې
علـم زده کـړه چـې ژونـدون دې شـي رڼـا
مسـبب د رزق الله دے بيـا هـم بويـه
چـې تکـل ورپسـې وشـي پـه رښـتيا
بـل تـه ځـائے خـالي کـوه پۀ ډک مجلـس کښـې
وړانـدې کېـږه پـه سـلام پـه مرحبـا"[19]

د ساقي صاحب په څنې قطعې هم د اصلاحي شاعرۍ غوره بېلګې دي:

"هغـه قومونـه چـې پـه خپلـو کښـې ناکـام نـۀ کـوي
پـه محبـت بانـدې يـو ورور بـل تـه سلام نـۀ کـوي
وطـن د خپلـو دښـمنانو نـه سـاتلے نـۀ شـي
د ګاونـډيانو نـه بـه خونـه کښـې ارام نـۀ کـوي
پـه کرسـۍ ناسـت اوسـه د کنـد د فقيرانـو پـۀ شـان
مـوټر کښـې تلـل کـړه د پيـاده مسـافرانو پـۀ شـان
حکومـت کـړه خـو ځـان قـابو کـړه د فـاروق پـه مثـال
مخـدوم هغـه دے چـې څـوک وي د خادمـانو پـۀ شـان

هـر ځـائے کښـې ګرځـه خـو د هـر څـۀ نـه عبـرت واخلـه
واخلـه بـدانو نـه د نېکـو نصـيحت واخلـه
ډېـر فرعونيـان دي چـې کنـدونو قباګـانو کښـې دي

تـــاج پـــهٔ ســـر کېـــږده د خوارانـــو محبـــت واخلـــه"[20]

باچا خان همېشـه ښځې او سړي پـهٔ معاشره کښـې د يـو هـومره حقونـو او ذمـه وارو جوګه بللي دي او د سړو سره سره يې ښځو تـه هم پـهٔ عملي ژوند کښـې د پـوره پـوره برخې اخسـتلو تاکيـد کـړے دے. د خدائي خدمتګار غورځنګ تبليغيـاتو پـهٔ تـاريخ کښـې پـهٔ وړومبي ځل مېرمنو ته دا حېثيت ورکړو چې پهٔ عملي ژوند کښـې يې برخه واخسته او پـهٔ قامي فېصلو کښې ورته د خپلې رائې څرګندولو حق ترلاسه شو چې د سيد وقار علي شاه کاکاخېل ليکنه "پښتنې ښځې او د قام خدمت" کښې يې بشپړه تذکره شوې ده. ساقي صاحب هر څو کهٔ ځينې ځايونو کښـې د ښځو پـهٔ حقله روايتـې خبرې د دخپلو شعرونو موضوع ګرځولې، لېکن وخت سره د هغهٔ ذهن کښې د باچا خان خبرې ناستې دي او بيا يې نهٔ يواځې دا چې خپل شعرونه د پراخه او روښانه ذهنيت سره ليکلي دي بلکې دغه مقصد دپاره يې عملي زيار هم باسلے دے. د نظم "سړے او ښځه" نه دا څو شعرونه د دغه ذهنيت عکاسي کوي:

"ښـــځه ســـړے دواړه پـــهٔ فطـــرت کښـــې برابـــر دي
يـــو شـــانې وتاکـــه ځلنـــدي شـــمس و قمـــر دي
دواړه بغـــاوت کـــولے نـــهٔ شـــي د يـــو بـــل ځنـــې
زړونـــــه د يـــــو بلـــــه د دې دواړو مســـــخر دي
يـو شـان ولـولې جـذبې لـري دواړه پـهٔ زړونـو کښـې
دواړه ښائســـته کـــړي پـــاک الله پـــهٔ خپـــل هنـــر دي
څـــومره تعلـــق چـــې د ســـاقي دے د پيـــالې ســـره
هســـې رنـــګ دنيـــا کښـــې مؤنـــث او مـــذکر دي"[21]

نظم "فېصله" هر څو کهٔ پـهٔ زندان کښـې ليکلے شـوے دے، دې نظم کښـې د خـود احتسابۍ يو ډېر مهم پېغام مخې تـه راوړے شـوے دے. خـود احتسـابي د ټولنې د اصلاح دپاره بنيادي ګام دے. ټولنـه تـل د بدۍ، غندنـه کوي خـو د هغې د مخنيـوي پـړه پـهٔ ځان نـهٔ اخلي. نورو ته ښوونه کېږي خو خپله پرې عمل نهٔ کېږي، دې د قـول او فعـل تضـاد د ټولنې دننه اخلاقيات د زوال سره مخ کړي دي. زهٔ د اهميت لهٔ کبله د نظم فېصـله د نمـونې پـه توګـه

څو شعرونه وړاندي کوم.
"فېصله

قاضـــي جوړېږمـــه پـــهٔ ځـــان حکـــم اول کومـــه
نـــوے روش د ے لـــهٔ وګـــړي نـــه يـــې بيـــل کومـــه
لکـــه د بـــل داســـې بـــه غـــلا څرګندومـــه خپلـــه
هـــر وخـــت بـــه ځـــان سـره حسـاب د خپـل عمـل کومـه
خلـق پـه نـورو زغـات کـوي د مـال او ملـک دپـاره
زهٔ پـــه زيـــاتي خـــوراک د خپلـــې ګېـــډې زغـــل کومـــه
ســـاقي يـــوه پيالـــه شـــراب د مېخـــانې د حجـــاز
رابانـــدې وڅښـــه چـــې خـــدمت ســـتا د محفـــل کومـــه"[22]

"خودکشي" نظم هم د معاشرې د اصلاح دپاره مهم پېغام لري. دې نظم کښې ساقي صاحب د وعظ سره يوه سکوټه فېصله هم کړې ده چې زما پهٔ خيال د خودکشۍ کوونکي د جنازې نهٔ کولو خبره پهٔ وړومبي ځل پهٔ شعر کښې شوې ده. خودکشۍ باعث جوړېدونکي خيالونه پهٔ ډېره ساده پېرايه کښې رد شوي دي او د کړېچونو او کړکېچونو حالاتو منځ کښې ګير شوي وګړي ته د حالاتو د مقابلې کولو حوصله ورکړې شوې ده.

"مشـکلات کـهٔ د انسـان شـي يـو پـهٔ سـل
نـهٔ ښـائېږي پـهٔ خپـل لاس د ځـان وژل
پـهٔ هـر دم پـهٔ هـر قـدم کښـې امتحـان د ے
دې دنيـا کښـې اسـان نـهٔ دي اوسـېدل
پـهٔ يـو رنګـې شـپه او ورځـې د کـال نـهٔ دي
پـه يـو حـال نـهٔ وي د عمـر تېرېـدل
د سـختيو پـهٔ زغملـو کښـې چـې مـړ شـي
خـاص شـهيد د ے پکـار نـهٔ دي ژړېـدل
تـر اخـري سـلګۍ پښـې سـاته مضـبوطې
نـامردي ده لـهٔ مېدانـه تښـتېدل
نـامردي او بزدلـي د ځـان وژل دي

هــــيخ پکـــار جنـــازه نـــۀ ده د بـــزدل"[23]

نظم "زميدار" پۀ ګڼو حوالو د اصلاحي شاعرۍ پۀ زمره کښې راځي. د ټولو نـه مهمـه وجه يې دا ده چې کوم خلق د ژوند سادګۍ نه پۀ تېښته دي او د مصنوعي ژوند پۀ اسانتياو پسې خپله ښېرازه خاوره او خپل ساده کليوال ژوند پرېږدي، هغـه خلقـو تـه دې نظم کښـې د خپلې خاورې سره د تړون ساتلو ترغيب ورکړے شوے دے. د اصلاحي شاعرۍ پۀ واعظانه او قدرې وچه لهجه کښې "زميدار" نظم د خولې خوند بدلولو دپاره ټول په ټوله نقل کوم:

"زميدار

کـــۀ ژونــــدون خــــو ژونــــدون دے د زميــــدار
تـــر غرمـــې پـــورې پټـــې کښـــې وکـــړي کـــار
غرمـــه ســـتړے او ســـتومانه کـــور تـــه راشـــي
ښـــځه ناســـته ورتـــه وي پـــه انتظـــار
يـــوه جـــغ د زمينـــدار لـــۀ اوړې کـــوز کـــړي
غويـــان وتـــړي ګيـــاه کـــړي ورګـــزار
کـــوزه واچـــوي خاونـــد تـــه پـــۀ مـــلا ټيټـــه
درســـتر خـــوان پـــه مخکښـــې خـــور کـــړي د دلـــدار
د شـــوملو جـــام کښـــې غونـــډارے يـــخ د کوچـــو
د پيـــاز غـــوټې ورســـره لکـــه اچـــار
دال او ســـاګ غوښـــه پراتـــۀ پـــه رکيبـــو کښـــې
خميـــره غټـــې دوډۍ پرتـــې قطـــار
دے ډوډۍ خـــورې دا وهـــي ورتـــه ببـــوزے
ســـل ژوندونـــه شـــه لـــۀ دې ژوندونـــه زا
ســـاقي پـــلار نيکـــۀ دې دواړه زميـــدار وو
ســـتا پـــه غـــاړه شـــو د ســـر ميـــؤ بېوپـــار"[24]

دې نه پس هر څو "نيم جام" کښې ټوله شاعري دوه بېتي ده، دغه شاعرۍ کښې لويـه برخه د اصلاحي مضامينو ده چې زۀ ترې دلته د خپلې مقالې بشپړه کولو دپاره څۀ قطعې

بې د څۀ تبصرې وړاندې کوم.

"هېـــــــروه خپلــــــه نېکـــــــي او د بـــــــل بـــــد
ښـــــۀ ژونــــدون پــــۀ دې جـــــوړېږي تـــــر ابــــد
پـــه يـــوه بـــدۍ چـــې ســـل نېکـــي برباد کـــړي
دغـــــه کـــــار خـــــو يـــــا د دېـــــو دے يـــــا د دَد"[25]

"کـــۀ دې خوښــــه وي چـــې نـــۀ شـــې ملامتـــــه
حســـاب ټيـــک ســـاته لـــۀ ځانــــه تـــر قيامتــــه
دوســـت خـــو دوســـت وي ورور او خـــور کـــۀ دې پـــلار وي
خـــدائے دې مــــۀ کـــړه چاتـــه دواړه ســـترګې ښـــکته"[26]

## حاصل بحث

هسې خو کۀ مونږ د خدائي خدمتګار تحريک ټول ليکونه وسنجوو نو دا خبره به پۀ ډاګه شي چې د دې ليکونو بنيادي او مرکزي نقطې په سياسي ، معاشي ،تعليمي او نورو حوالوسره د پښتنو د اصلاح وه هم دغه شان د فضل الرحيم ساقي د شاعرۍ زياته برخه پ شعورې توګه اصلاحي شاعرۍ مشتمله ده کۀ چرې د دوي دغه اصلاحي شاعري په نصاب کښې شامله کړې شي او د خلقو تر غوږونو ورسولې شي نو په عملي توګه به په معاشره کښې اصلاح اوپرمختګ ته به لارې هوارې شي-

## حوالې

1 ساقي، فضل الرحیم، ډک جام، د رهبر د اشاعت خانګه پېښور، کال ۱۹۵۷ء، ۲ مخ.
2 همدغه اثر، ۲ مخ.
3 همدغه اثر، مخ ۸.
4 همدغه اثر، ۲۱، ۲۲ مخونه.
5 همدغه اثر، ۱۰۵ مخ.
6 همدغه اثر، ۱۰۸ مخ.
7 همدغه اثر، ۱۱۰، ۱۱۱ مخونه.
8 همدغه اثر، ۱۱۲ مخ.
9 همدغه اثر، ۱۲۴ مخ.
10 همدغه اثر، ۱۲۰ مخ.
11 همدغه اثر، ۱۲۹ مخ.
12 همدغه اثر، ۱۷۴، ۱۷۵ مخونه.
13 همدغه اثر، ۱۷۹ مخ.
14 همدغه اثر، ۱۸۰، ۱۸۱، ۱۸۲ مخونه.
15 همدغه اثر، ۱۸۲، ۱۸۳ مخونه.
16 همدغه اثر، ۱۹۵ مخ.
17 همدغه اثر، ۲۷۸ مخ.
18 همدغه اثر، ۲۷۳ مخ.
19 همدغه اثر، ۱۹۸، ۱۹۹، ۲۰۰ مخونه.

20 همدغه اثر، ۲۰۵ مخ.
21 همدغه اثر، ۲۲۲، ۲۲۳ مخونه.
22 همدغه اثر، ۲۴۳، ۲۴۴ مخونه.
23 همدغه اثر، ۲۴۸، ۲۴۹ مخونه.
24 همدغه اثر، ۲۶۶، ۲۶۷ مخونه.
25 ساقي، فضل الرحیم، نیم جام، یونیورسټي بک اېجنسي کابلۍ دروازه پېښور، د چاپ کال نۀ لري، ۱۳ مخ.
26 همدغه اثر، ۱۴ مخ.

## Refrences


1. Saqi Fazal Ur Raheem, Dak Jam ,Da Rahbar ishagati Sanga Peshawar Kal 1957 Page 6
2. Khum Daga Asar page 6
3. Khum Daga Asar page 8
4. Khum Daga Asar pages 61,62
5. Khum Daga Asar page 105
6. Khum Daga Asar page 108
7. Khum Daga Asar page 110,111
8. Khum Daga Asar page 116
9. Khum Daga Asar page 124
10. Khum Daga Asar page 120
11. Khum Daga Asar page 129
12. Khum Daga Asar page 184,185
13. Khum Daga Asar page 179
14. Khum Daga Asar page 180,182
15. Khum Daga Asar page 182,183
16. Khum Daga Asar page 195
17. Khum Daga Asar page 278
18. Khum Daga Asar page 273
19. Khum Daga Asar page 198,199,200
20. Khum Daga Asar page 205
21. Khum Daga Asar page 222,223
22. Khum Daga Asar page 243,244
23. Khum Daga Asar page 248.249
24. Khum Daga Asar page 266,267

25. Saqi, Fazl ur Raheem, Nem Jam University Book Agency Peshawar Page 13
26. Khum Daga Asar page 14